## د مجله د کتونکو وینا

د افغانستان د حقوقي مطالعاتو مجله هغه لومړنی تحقیقي-علمي مجله ده چې په دري ژبو شیرنیز لیکنې خپروي او د افغانستان د حقوقو په برخه کې ملي او نړیوال حقوقي شیرونکو ته فکري ساحه جوړوي. موخه داده چې د مهمو حقوقي او قانوني مسایلو اروند معیاري او باکیفیته تحقیقي-علمي لاس ته راوړنې او دارنګه افغانستان کې د قانون د حاکمیت په برخه کې د هڅو اروند موضوعات خپاره کړو. دا مجله هغه نوې ستونزې چې د موجوده قوانینو له پلیکېدو څخه په هیواد کې را پیداکیږي، را وپیژني او لازمي د حل لارې او مشورې وړاندې کوي. د دې مجلې زیاتې مقالې افغان شیرونکي او لیکوالان په دري او پښتو ژبو او څو تحقیقي مقالې یې یوډله نړیوالو شیرونکي په انګلیسي او فارسي ژبو لیکلې دي.

پښتو دیوې نوې راټوکیدلې علمي ژبې په توګه د افغانستان په حقوقي ټولنې کې خپل شتون پیاوړی کړی دی. که څه هم په دې مجله کې د پښتو ژبې سهم او ګډون ، د دري او انګلیسي ژبو په پرتله یوڅه لږ دی، خو له نیکه مرغه د دې ژبې د پرمختګ په پار هم هڅې رواني دي، ترڅو د افغانستان د حقوقي برخې فعالانو، پوهانو او زده کوونکو اړتیاوې حل شي. د مجلې کتونکي به هڅه وکړي ترڅو له قوي شیرونکو او محققینو سره د افغانستان د ننه او بهر د پښتو ژبې د مقالو لیکلو لپاره اړیکې ونیسي ، او هیله ده چې راتلونکو ګڼو کې په پښتو ژبه لازیاتې تحقیقي مقالې ولرو. د دې مجلې زیاتی مقالې د افغانستان د حقوقي مطالعاتو په یوه علمي غونډه کې چې هر کال په کابل کې نیسو، لوستل شوي دي، او د مجلې لیکنیز پلاوی د دوه تنو له دقیقې مطالعې او تاکنی وروسته مقالې او پدی مجله کې خپرې شوې دي.

دغه علمي مجله پروفسور دکتر محمدهاشم کمالي د مالیزیا دپر مختللو اسلامي مطالعاتو بین‌المللي مؤسسې رئیس ، دکتر تیلمان ج رودر آلماني شیرونکي، او د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي استاد پوهنمل لطف‌الرحمن سعید لخوا په ۱۳۹۵ لمریز کال کابل کې تاسیس شوی ده، داسې شرایطو کې چې لا افغانستان د کورني شخړو او امنیتي ستونزو سره لاس او ګریوان ده، خو دغه ټکی بیا دهیواد ثبات له مختلفو لارو خطر سره مخ کوي، هغه علمي خپرونې چې زیات فکري تمرکز ، ظرفیت جوړولو او منابعو / سرچینو ته دلاس رسي اړتیا لري. دغسې شرایطو کې طبیعي

ده چې تحقیقی او څېړنیز فعالیتونه له محدودیتونو سره مخ کیږي، د کاری ملګرو په ملاتړ او با ارزښته هڅو په مټو دا په افغانستان کې یواځنی حقوقی مجله ده چې د (ISSN) نړیوالی ستندرد پرله پسی شمیرې له مخې په پاریس کې ثبت شوې ده، د مجلې لومړی ټوک تیر کال په ملی او نړیوالی کتابتونونو کې وویشل شوه او د حقوقی څېړونکو د ښه استقبال څخه برخمنه شوه.

له فرصت څخه په استفادې د ټولو کاری ملګرو، او د هغو اشخاصو چې خپل ارزښتناکه وخت یې علمی څېړنو ته ورکړی او د دې مجلې په خپرونه کې لویه برخه لري، مننه او درناوی کوو، دا رنګه د هغو له هڅو چې افغانستان ته دسولې په بیاراګرځولو او د ښه راتلونکی جوړولو لپاره فعالیت کوی هم د زیات درناوی او احسان منونکی یو. د یو ډله ملی او نړیوالو اکادمیکو شخصیتونو لخوا دمجلې په علمی مشورتی پلاوی کې د غړیتوب مثبت خواب، زمونږ د ډاډ ګېرنې او تشویق لامل وګرځید، چې نومونه او موقفونه یې پدی مجله کی لیکل شوی دی. لیکنیز پلاوی دا فرصت غنیمت ګڼی او دهغوی درناوی کوی او هیله مند یو چې د علمی مشورتی پلاوی محترم غړی مونږ له خپلو ارزښتناکو لارښوونو څخه برخمن کړی او مجله پخپلو اړوندو بنسټونو او هیوادونو کې وپیژني.

د لیکنیز پلاوی غړی فوق دکترا څیړونکی او د دکترا دورې زده کوونکی دی چې د لیکنیز پلاوی لخوا غوره شوی دی. دوی مقالې په ځیر او دقت سره تر کره کتنې لاندې نیسی، او اړونده تخصصی څانګه کې خپل خلاق نظرونه او اندونه له موږ سره شریکوی. دارنګه د منشیانو له همکارانو، ښاغلی احمدشاه احمدیار او آغلې عایشه محمود نه چې ددې ټوک د تدوین په ټولو مرحلو کې یې فعاله ونډه اخیستې، او ژباړونکو هریو: میرمن آمنه حسینی، او آغلې فاطمې څخه چې د مقالو لنډیز یې په ښه او روان ډول ژباړلی، د زړه له تله مننه او درناوی کوو. د یادونې وړ ده چې دغه ټول شخصیتونه په داوطلبانه ډول او د کومې حق‌الزحمې له ترلاسه کولو پرته دې کارکې ونډه لري.

همدارنګه په پای کی د آلمان فدرالی جمهوریت د بهرنیو چارو وزارت نه، د افغانستان د حقوقی مطالعاتو د علمی غونډو دایرولو د مالی ملاتړ په پار هم د زړه له تله درناوی کوو، چې د دې مجلې په خپرولو کې اسانتیاوې رامنځته کړې دی.

په را تلونکو کلونوکې د افغانستان دحقوقی مطالعاتو مجلې د خپراوی د تداوم لپاره په ډیر شوق او تلوسه دهغو مرسته کوونکو په لټه کی یوو، چې هیله کیږی دې برخه کې همکاری او لاس نیوی وکړی.

**پروفسور دکتر محمدهاشم کمالی، دکتر تیلمان ج. رودر- منشیان**
**او پوهنمل لطف‌الرحمن سعید- سرمنشی**